د آشنا پوهنتون محصلین چې د افغانستان بانک ته د دې بانک د بېلابېلو آمریتونو د دندو او مسئولیتونو د پېژندلو لپاره په یوه علمي لیدنه راغلي وو، ورته د افغانستان بانک د بېلابېلو آمریتونو د استازو له لوري د افغانستان بانک د دندو، موخو او ټولیزو سیاستونو په اړه هر اړخیز معلومات ورکړل شول.

باید وویل شي چې د آشنا پوهنتون محصلینو د افغانستان بانک له اړوندو مسئولینو مننه وکړه چې له دوی سره یې په دې علمي لیدنه کې د دې بانک د دندو، موخو او فعالیتونو په اړه معلومات شریک کړل.

د یاد پوهنتون محصلینو هیله وښوده چې په راتلونکې کې به هم د افغانستان بانک له لوري د محصلینو لپاره ورته علمي کتنې زیاتې شي.

پاتې د نه وي چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې د خپلو اکاډمیکو همکاریو په لړ کې د بېلابېلو پوهنتونونو او نورو علمي مرکزونو محصلینو ته د دې بانک د دندو، موخو او ټولیزو سیاستونو په اړه هر اړخیز معلومات ورکړي.

# برنامه آموزشی و آگاهی دهی برای صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی زون غرب





هرات – ۶ قوس ۱۳۹۸ – برنامه آموزشی تحت عنوان "آموزش مقررۀ تنظیم فعالیت های صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی و آگاهی دهی در خصوص تغییر ساختار حقوقی صرافی ها و خدمات پولی انفرادی به شرکت های صرافی و خدمات پولی" از طرف آمریت عمومی نظارت امور مالی د افغانستان بانک در زون غرب تدویر گردید.

این برنامه توسط محترم انورشاه یوسفی آمر زون غرب د افغانستان بانک افتتاح شده که ایشان در زمینۀ اهداف و اهمیت این برنامه به اشتراک کنندگان معلومات ارائه نمود.

سپس محترم شاه پور میاخیل مدیر ارشد نظارت از صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی آمریت عمومی نظارت امور مالی در خصوص اهداف نظارت، مسئولیت ها، مکلفیت ها و فعالیت های مجاز و ممنوعه صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی توضیحات لازم ارائه نمود.

وی افزود که د افغانستان بانک به هدف مصونیت، ثبات و بهبود نظام مالی کشور همواره تلاش نموده و از تمام معاملات مالی، نظارت به عمل آورده تا اجازه ندهد که از فرصت های فراهم شده به هدف پولشویی استفاده صورت گیرد.

محترم میاخیل تاکید ورزید که د افغانستان بانک همه ساله به منظور ارتقای ظرفیت کاری صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی در خصوص رعایت و تطبیق بهتر قوانین و مقررات، برنامه های مختلف و متعددی را در سرتاسر کشور تدویر نموده و این پروسه ادامه خواهد یافت.

به تعقیب آن محترم عبدالحمید توفیق مدیر جوازدهی آمریت نظارت امور مالی راجع به تغییر ساختار صرافی ها و خدمات پولی انفرادی صحبت نموده و یادآوری کرد که فعالیت های شرکت های صرافی و خدمات پولی به شکل معیاری می باشد. موصوف با توضیح مزایای شرکت های صرافی و خدمات پولی، تمام صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی را تشویق نمود تا اقدام به اخذ جواز شرکت صرافی و خدمات پولی نمایند.

همچنان، محمد الیاس ظاهر معاون مدیریت مبارزه علیه پولشویی و تمویل تروریزم آمریت نظارت امور مالی در رابطه به مسئولیت های صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی در مبارزه علیه پولشویی و تمویل تروریزم در پرتو قوانین و مقررات مربوطه معلومات ارائه نموده و به حل مشکلات صرافان در این زمینه توضیحات لازم ارائه نمود.

در عین حال، رئیس اتحادیه صرافان هرات راه اندازی چنین برنامه ها را سودمند خوانده و خواهان همکاری های بیشتر د افغانستان بانک در زمینه گردید.

سپس پیشنهادها و نظریات صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی از طرف هیئت مؤظف آمریت عمومی نظارت امور مالی استماع و پاسخ های لازم به آنها ارائه گردید.

قابل یادآوری است که در این برنامه بیش از ۵۰۰ تن فراهم کننده خدمات پولی، صرافان، مدیران نمایندگی های بانک های تجارتی، نماینده های مقام ولایت، قوماندانی امنیه، امنیت ملی و اتاق تجارت آن ولایت اشتراک نموده بودند.

# د رڼا پوهنتون د اقتصاد پوهنځي محصلینو ته ښوونیز ورکشاپ جوړ شو





کابل، د ۱۳۹۸ کال دلیندۍ ۱۷ مه – د افغانستان بانک له لوري د رڼا د پوهنتون محصلینو ته د دغه بانک د موخو، دندو او ټولیزو سیاستونو په اړه د پوهاوي لپاره یو ورځنی ښوونیز ورکشاپ جوړ شو.

د دې ښوونیز ورکشاپ په پیل کې د افغانستان بانک د ریاست د دفتر د لوی آمریت مرستیال ښاغلي شفیق الله بارز خبرې وکړې او د اقتصاد، مالي او بانکي چارو د برخې محصلینو ته د بانک د موخو، دندو او ټولیزو سیاستونو په اړه د ښوونیزو ورکشاپونو جوړول یې له پوهنتونونو سره د افغانستان بانک د اکاډمیکو همکاریو یوه برخه وبلله چې د افغانستان بانک له لوري د محصلینو د ظرفیتونو د لوړولو لپاره په پام کې نیول شوي دي.

د ښاغلي بارز په خبره د افغانستان بانک پر خپلو بنسټیزو دندو سربېره د اطلاع رسونې، عامه پوهاوي او معلوماتو د شریکولو په برخه کې لازمو هڅو او همکاریو ته ژمن دی.

وروسته د رڼا پوهنتون رئیس ښاغلي رحیم الله امین خبرې وکړې او یاد پوهنتون ته د افغانستان بانک د اړوند پلاوي ته د ښه راغلاست ویلو تر څنګ یې د دغه ډول ښوونیزو ورکشاپونو او د اطلاع رسونې په برخه کې د هېواد د مرکزي بانک په توګه د افغانستان بانک له لوري د معلوماتو د شریکولو په ارزښت او د دغه بانک د ټولیزو سیاستونو په اړه محصلینو ته توضیحات وړاندې کړل.

نوموړي د محصلینو لپاره د دغه ډول ورکشاپونو جوړول د دوی د علمي کچې په لوړولو کې د ارزښت وړ یاد کړل او هیله یې وښوده چې دا ډول نور ورکشاپونه به هم جوړ شي.

وروسته بیا د افغانستان بانک د پولي سیاست د عمومي آمریت مرستیال ښاغلي احمد جواد سداد په هېواد کې د پولي سیاست د تطبیق، په کور د ننه د بیو د ثبات د تامین او ساتنې او دغه راز د هېواد اقتصادي وضعیت ته په کتو سره د پیسو د وړاندې کولو په مدیریت، کنټرول او همدارنګه د مبادلې د نرخ په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

د دې ښوونیز ورکشاپ په بله برخه کې د افغانستان بانک د مالي چارو د عمومي آمریت د داخلي څار مدیر ښاغلي حسیب الله بهنورد پر بانکونو او مالي موسسو د څارنې یو پریزنټېشن وړاندې کړ چې په بانکونو کې د درجه بندۍ په تړاو یې د پانګو د کفایت، دشتمنیو د کیفیت، د ګټې د مدیریت او سیالیت په اړه ګډون کوونکو ته معلومات ورکړل.

د ورکشاپ په وروستۍ برخه کې د ګډونوالو پوښتنو ته ځوابونه وویل شول او دوی ته د دې ښوونیزې دورې تصدیق پاڼې وویشل شوې.

# د نړۍ لس بډایه هېوادونه

دا چې د نړۍ دا لس بډایه هېوادونه کوم دي او په روان زېږدیز کال کې یې کورنی ناخالص تولید څومره اټکل شوی په لاندې توګه معرفي او پېژندل کېږي.

امریکا، چین، جاپان، آلمان، انګلستان، هندوستان، فرانسه، ایټالیا، برازیل او کاناډا په ترتیب سره د نړۍ لس ستر اقتصادي هېوادونه دي.

**امریکا:** دا هېواد د نړۍ د ټول اقتصاد ۵/۱ برخه جوړوي. د امریکا کورنی ناخالص تولید په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې ۲۱ تریلیون ډالر اټکل شوی وو او لا هم دا هېواد د نړۍ د سترو بډایه هېوادونو په سر کې ولاړ دی.

د دې هېواد د کورني ناخالص تولید ۸۰ سلنه د عامه خدمتونو د دندو له لارې ترلاسه کېږي او د دې هېواد د کرنې سکتور د کورنیو ناخالصو تولیداتو په برخه کې ډېره کمه ونډه لري.

**چین:** په وروستیو څو لسیزو کې د چین د هېواد اقتصاد د لیدنې وړ پرمختګ کړی دی. د دې هېواد د اقتصاد په وړاندې د ولاړو دیوالونو په له منځه تلو سره یې تولید وده کړې او صادرات یې په بې ساري ډول لوړ شوي دي چې دا هېواد یې د نړۍ پر یو بډایه هېواد بدل کړی دی.

له هغه وروسته چې په ۱۹۷۸ زېږدیز کال کې چین د خپلو بازارونو په بیا رغونه پیل وکړ د دې هېواد اقتصاد په کلني ډول ۱۰ سلنه وده کړې ده چې دا وده د چین په اقتصادي تاریخ کې بې ساري ده.

په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې د چین هېواد کورنی ناخالص تولید ۹.۲ تریلیون ډالر اټکل شوی دی چې دا د ټولې نړۍ ۱۰ سلنه اقتصادي برخه تشکیلوي.

**جاپان:** له ۱۹۷۰ څخه تر ۱۹۸۰ زېږدیزو کلونو د جاپان اقتصادي وده په ډېرې چټکۍ سره پرمخ روانه وه، خو په تدریجي ډول یې خپل دویم ځای د چین هېواد ته پرېښود. د جاپان د هېواد کورنی ناخالص تولید په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې ۵.۲ تریلیون ډالر اټکل شوی دی چې دې تولید یاد هېواد ته د نړۍ په کچه د درېیم غوره اقتصاد لرونکي او بډایه هېواد نوم ورکړی دی.

باید وویل شي چې د ۲۰۰۸ زېږدیز کال مالي بحران، د جاپان په اقتصادي وده سخته ناوړه اغېزه وکړه. که څه هم یاد هېواد خپل مالي بحران په ښه توګه مدیریت کړ، خو په همدې کلونو کې په دې هېواد کې د سختې زلزلې له رامنځته کېدو سره د دې هېواد اقتصادي بنسټونو ته زیان واوښت چې تر هغې وروسته یې په لوړه کچه اقتصادي وده نه ده کړې.

**آلمان:** آلمان د اروپا د لویو او مخکښو اقتصاد لرونکو او بډایو هېوادونو له ډلې دی. د دې هېواد کورنی ناخالص تولید په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې ۴.۲ تریلیون ډالر اټکل شوی دی.

آلمان په ۲۰۰۸ زېږدیز کال کې د نړیوال مالي بحران په رامنځته کېدو سره له مالي ستونزو سره مخ شو او د دې هېواد اقتصادي وده هم ټکنی شوه.

دا چې آلمان یو صنعتي هېواد دی، کېدای شي چې یاد هېواد پورې د نړۍ په لسو بډایو هېوادونو کې څلورم مقام راخپل کړي.

**انګلستان:** دا هېواد د نړۍ پنځم ستر اقتصاد لرونکی هېواد ګڼل کېږي. په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې د انګلیستان کورنی ناخالص تولید ۳.۲ تریلیون ډالر اټکل شوی دی.

له ۱۹۹۹ تر ۲۰۰۸ زېږدیز کلونو د انګلستان هېواد په اقتصاد کې

په منځني ډول په هر کال کې ۲.۷ سلنه زیاتوالی راغلی دی، خو تر یادې نېټې وروسته د دې هېواد په اقتصادي وده کې پرمختګ نه دی رامنځته شوی.

د دې هېواد ۷۵ سلنه عواید د عامه خدمتونو له لارې تر لاسه کېږي او یوازې ۲ سلنه وګړي یې په کرکیله بوخت دي چې د انګلستان هېواد د اقتصادي ودې شپېته سلنه د یاد هېواد د کرکیلې او غلو دانو د حاصلاتو له لارې پوره کېږي.

**هندوستان:** دا هېواد د نړۍ شپږم لوی اقتصاد لرونکی او بډایه هېواد بلل کېږي. په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې د هندوستان کورنی ناخالص تولید ۲.۹ تریلیون ډالر اټکل شوی دی.

دا هېواد په چټکۍ سره د اقتصادي کېدو او بډاینې په لور روان دی او داسې وړاندوینه کېږي چې هندوستان به ډېر ژر د نړۍ دریم لوی اقتصادي او بډایه هېواد بدل شي.

دا هېواد په ۱۹۸۰ زېږدیز کال کې د نړۍ دیارلسم ستر اقتصادي قدرت شمېرل کېدو او تر دې مهاله یې په تدریجي ډول سره د اقتصادي ودې په برخه کې پرمختګ راغلی دی.

د هندوستان د پیسو د نړیوال صندوق د معلوماتو پر بنسټ تمه شته چې د هندوستان هېواد به په روان زېږدیز کال کې به د انګلستان هېواد ځای ونیسي او د نړۍ په لسو بډایو هېوادونو کې به پنځم مقام راخپل کړي.

**فرانسه:** دا هېواد د نړۍ په کچه اووم او د اروپا په کچه دریم لوی اقتصاد لرونکی او بډایه هېواد شمېرل کېږي چې د نړۍ په کچه ډېر ګرځندویان ورځي او له دې لارې کتنې وړ پانګه ترلاسه کوي.

په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې د فرانسې هېواد کورنی ناخالص تولید ۲.۸ تریلیون ډالر اټکل شوی دی چې د دې هېواد د ناخالص تولید ۷۰ سلنه یې عامه خدمتونه جوړوي.

فرانسه د نړۍ په کچه د کرنیزو توکو شپږم لوی تولیدوونکی او دویم ستر صادروونکی هېواد بلل کېږي.

**ایټالیا:** دا د نړۍ اتم لوی اقتصادي او بډایه هېواد دی. په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې په ایټالیا هېواد کې د کورني ناخالص تولید کچه ۱.۸۶ تریلیون ډالر اټکل شوې ده او دا هېواد د اروپا څلورم لوی اقتصاد لرونکی او بډایه هېواد شمېرل کېږي. د پیسو نړیوال صندوق تمه لري چې تر راتلونکو څو کلونو به د دې هېواد په اقتصادي وده کې ډېر پرمختګونه رامنځته شي.

**برازیل:** دا د لاتیني امریکا د هېوادونو په پرتله تر ټولو زیات وګړي لري چې د نړۍ د بډایو هېوادونو په نوملړ کې یې ۹ مقام خپل کړی دی.

د دې هېواد کورنی ناخالص تولید په روان ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې ۱.۷ تریلیون ډالر اټکل شوی دی او تمه ده چې د دې هېواد پانګه به ډېر ژر ۲ تریلیون ډالرو ته لوړه شي.

**کاناډا:** دغه هېواد د نړۍ د غوره اقتصاد لرونکو او بډایه هېوادونو په نوملړ کې لسم او وروستی ځای خپل کړی دی. که څه هم په دې هېواد کې د تیلو او ګازو بیې ټیټې دي، خو لا هم د دې هېواد کورنی ناخالص تولید په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې ۱.۸ تریلیون ډالرو ته رسېدلی دی او اقتصاد یې ډېر پرمختګ نه دی کړی.

ژباړه: حسیب الله نوري

**سرچینې:**


۱ – د نړۍ پرمختللي اقتصادونه و پېژنئ

معرفی بزرگترین اقتصادهای جهان در سال ۲۰۱۹

https://karimoacademy.org/bigest-economy/

https://news.livedata.ir/n/335444.html

۲ – د نړۍ لس غوره اقتصاد لرونکي هېوادونه

The world’s 10 biggest economies

https://www.weforum.org/agenda/2017/03/worlds-biggest-economies-in-2017/

# پس انداز

پس انداز قسمتی از عاید و یا مقداری پولی است که از عواید ماهانه شما باقی می ماند.
پس انداز برای رفع ضروریات هر انسان در بخش های تعلیم و تحصیل، صحت، تفریح، رفاه بیشتر، لحظات خوشی و ماتم، دوره بازنشستگی یا تقاعد و سرانجام سرمایه گذاری دارای اهمیت فراوان می باشد.
برای اینکه آیندهٔ مرفه داشته باشید، یک مقدار از عاید ماهانه خود را پس انداز کنید. شما می توانید پول خود را هم در خانه و هم در بانک های تجارتی به حساب پس انداز واریز و نگهداری کنید، اما جهت مصونیت و امنیت پول تان بهتر است آنرا در بانکها پس انداز نمائید.




**از امروز به پس انداز اقدام نمائید، اگرچه اندک هم باشد!**



# په هېواد کې د انرژۍ د تولید هڅې

**نړیوال بانک په افغانستان کې د برېښنا د تولید په برخه کې مرسته کوي.**

معلومات ښيي چې نړیوال بانک په افغانستان کې د انرژۍ تولید له دوو پروژو سره د مرستې په توګه د ۹۸.۸ میلیونه امریکایي ډالرو ورکول منظور کړي دي.

یاد بانک د روان زېږدیز کال د اکتوبر میاشتې پر لسمه نېټه په خپل راپور کې ویلي چې په افغانستان کې له یادو پروژو څخه موخه د کورنیو سرچینو له لارې د انرژۍ د تولید د کچې لوړول او د انرژۍ پر سکټور د خصوصي پانګونې هڅول دي.

دغه مرسته د شبرغان د ګازو د انرژۍ د تولیدولو پروژې د پانګې اچونې او د مزارشریف له ګازو د انرژۍ د تولید پر پروژې باندې لګول کېږي.

افغانستان برېښنا ته زیاته اړتیا لري، تمه ده چې د انرژۍ د تولید لپاره به د دغو مالي مرستو لګښت د هېواد د اقتصاد د ودې او پراختیا په لار کې یو ستر ګام شي.

باید وویل شي چې د انرژۍ د تولید پر سکتور پانګه اچونه د هېواد د اقتصادي ودې د لاسته راوړلو لپاره بنسټیز ارزښت لري.

د یادونې وړ ده چې د انرژۍ د تولید لپاره د بېلابېلو سرچینو په رامنځته کېدو سره به ګڼ شمېر هېوادوال له ډاډمنې ښاري برېښنا څخه برخمن شي چې دا چاره به د کاري فرصتونو پر رامنځته کېدو سربېره د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه کېدو لامل هم شي.

د شبرغان له ګازو د انرژۍ د تولید پروژه چې د ۴۰ میګاواټ برېښنا کوټ د ودانۍ د جوړېدو او نورې اجرائیوي چارې په کې شاملې دي په یاد ولایت کې جوړېږي.

دا پروژه به په یو کال کې د (۳۰۰) ګېګاواټ ساعته برېښنا د تولید وړتیا ولري چې په بشپړېدو سره به یې د هېواد د انرژۍ په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راشي.

د یادونې وړ ده چې په دې برېښناکوټ کې به د هېواد په شمال لوېدیځ کې د شبرغان د ګازي څاه ګانو ګاز کارېږي او د دې پروژې لومړنې ګټه اخېستونکي به له ښاري شبکو سره نښتې کورنۍ او تشبثونه وي چې په بلخ، جوزجان، فاریاب، سرپل او د شمالي ولایتونو په نورو سیمو کې به د یاد برېښناکوټ له لارې برېښنا ور ورسېږي.

تمه ده چې د دې پروژې پر بشپړېدو سره به په یادو ولایتونو کې د اړتیا وړ برېښنا د کمښت ستونزه تر یوې کچې را ټیټه شي

او په دې ولايتونو کې به دا چاره خلکو ته د دندو د رامنځته کولو په برخه کې هم مرستندويه واقع شي.

له بلې خوا معلومات ښيي چې د مزار شريف د انرژۍ د توليد په پروژه کې د ۵۸.۶ ميګاواټه برېښناکوټ د ودانۍ د جوړېدو چارې هم شاملې دي چې په دې برېښناکوټ کې به هم د انرژۍ د توليد لپاره د شبرغان له ګازو استفاده وشي.

تمه ده چې دا برېښناکوټ به په کال کې د (۴۰۴) ګېګاواټ ساعت برېښنا د توليد وړتيا ولري، دا کچه په ۲۰۱۹زېږديز کال کې د هېواد توليد شوې انرژۍ له ۲۸ سلنې او د ټولې وېشل شوې انرژۍ له شپږ سلنې سره برابره ده.

د دې پروژې په مرسته د انرژۍ د توليد له برېښناکوټه به له ښاري شبکو سره په کابل، مزار شريف او په جلال‌آباد کې نښتې کورنۍ برخمنې شي.

د دې پروژې په بشپړېدو سره به په يادو ولايتونو کې د کورنيو توليدي کارخونو لپاره هم برېښنا برابره شي او دا چاره به د دندو د زېږدو لپاره لاره هواره کړي.

تمه ده چې په دې سره به د دې ولايتونو د اوسېدونکو په اقتصادي وضعيت کې هم د ليدلو وړ مثبت بدلون رامنځته شي او د بېکارۍ د کچې له کمښت سره به هم پوره مرسته وکړي.

بايد وويل شي چې دا پروژه د نړيوال بانک، نړيوالې مالي ادارې او څو اړخيزو پانګو اچونو د تضمين ادارې په مرسته ترتيب شوې چې د عامه او خصوصي سکتور ترمنځ به د تکثير وړ يو مشارکت رامنځته او د افغانستان د بېخ بنسټونو د پياوړتيا لپاره به د خصوصي سکتور اوږد مهالې پانګې اچونې وهڅوي.

د يادونې وړ ده چې دا دواړه پروژې به د ګاز د سکتور په لا چټکولو کې هم مرسته وکړي. د افغانستان په شمالي ولايتونو کې د ګازو لويې زېرمې شتون لري چې دا طبيعي بډايه زېرمې په هېواد کې له جنګ او جګړو وړاندې راسپړل شوې وې او په کور دننه د ګازو تر مصرف سربېره بهرنيو هېوادونو ته هم د دې زېرمو ګاز او نور نفتي توکي صادرېدل، خو له بده مرغه دا چاره په هېواد کې د جنګ او جګړو په رامنځته کېدو سره په ټپه ودرېده او په دې برخه کې هېڅ پرمختګ رامنځته نه شو.

تمه ده چې اوسمهال په هېواد کې د دغه ډول اقتصادي پروژو په پلي کېدو سره د ګازو د توليد په برخه کې پانګې اچونې زياتې شي او دا برخه به د پخوا په پرتله زيات پرمختګ وکړي.

پاتې دې نه وي چې نړيوال بانک پر داسې مهال په افغانستان کې له کورنيو سرچينو څخه د انرژۍ د توليد په برخه کې مالي مرسته کوي چې افغانستان اوس مهال د اړتيا وړ خپله زياته برېښنا له خپلو شمالي ګاونډيانو ازبکستان او تاجکستان څخه واردوي او له دې لارې زياته برخه اسعار له دې هېواد څخه بهر ځي.

دا بايد زياته شي چې د دې او دې ته ورته د نورو پروژو په پلي کېدو سره به له هېواد څخه بهرنيو هېوادونو ته د اسعارو له تګ څخه مخنيوی وشي او له دې وروسته به ياد اسعار د افغانستان په خپل کورني بيلانس کې ور زيات شي.

سرچينې:

۱ – د نړيوال بانک ويبپاڼه

نړيوال بانک په افغانستان کې پر انرژۍ د خصوصي سکتور د بنسټيزو پانګونو ملاتړ کوي

https://www.worldbank.org/ps/news/press-release/2019/10/10/world-bank-group-supports-private-sector-investments-in-afghanistans-energy-sector

۲ – د امريکا غږ آشنا

افغانستان کې د برېښنا په توليد د نړيوال بانک نژدې ۹۹ ميليونه ډالر پانګونه

https://www.pashtovoa.com/a/world-bank-group-supports-critical-private-sector-investments-in-afghanistan-energy-sector-/5121182.html

# اطلاعیه

**هموطنان عزیز!**

به منظور مصونیت معاملات مالی خوش و تطبیق بهتر قوانین و مقررات حین استفاده از خدمات صرافی و خدمات پولی بـه فعالیت های مجاز و ممنوعه صرافی و خدمات پولی که ذیلاً تذکر گردیده است، توجه داشته و به انجام آن مبادرت ورزید تا برعلاوه مصونیت در معاملات مالی، مسئولیت قانونی و حقوقی خویشرا نیز ادا نموده باشید.

## فعالیت های مجاز صرافی

- خرید و فروش اسعار (مبادله اسعار)
- انجام معاملات ذریعه قراردادهای پیش خرید اسعار

## فعالیت های ممنوعه صرافی

- گذاشتن سپرده (امانات) نزد صرافان: صرافان نمی توانند پول امانات مشتریان را اخذ و نگهداری نمایند؛
- صرافان نمی توانند به کسبه کار، تجار و سایر افراد خدمات قرضه را فراهم سازند؛
- صرافان نمی توانند در داخل و یا به خارج کشور اجرای حواله نمایند و یا برعکس پول حواله را اجراء کنند.

## فعالیت های مجاز فراهم کنندگان خدمات پولی

- انتقال پول؛
- تبادله چک به پول نقد؛
- مبادله اسعار و سایر فعالیت های مجاز صرافی؛

## فعالیت های ممنوعه فراهم کنندگان خدمات پولی

- قبـول سـپرده ها (امانات): فراهم کنندگان خدمات پولی نمی توانند پول امانات مشـتریان را اخذ و نگهداری نمایند؛
- فراهم کنندگان خدمات پولی نمی توانند به کسبه کار و تجار خدمات قرضه را فراهم سازند

# د شتمن کېدو هيلې او هغې ته د رسېدو لارې چارې

پيسې او شتمني د هر انسان د ژوند يوه ډېره مهمه اړتيا ده او ټول انسانان په دې فکر کې دي چې څنګه کولای شي د خپل ژوند اړتياوې پوره کړي. دوی په دې برخه کې د خپلو خوبونو د رېښتيا کېدو په لټه کې دي او غواړي چې له دې لارې شتمن شي.

پخوا يو باور دا ؤچې شتمن يا ميليونر کېدل به يوازې د منځني عمر د کسانو لپاره وي، خو اوس ليدل کېږي چې په نړۍ کې ځوان ميليونران هم کم نه دي او دا چاره په بېړه مخ په وړاندې روانه ده اوکېدای شي چې د دې هرڅه نسبت په نننۍ پېړۍ کې د تکنالوژۍ پرمختګ او بدلونونه وي.

په نننۍ نړۍ کې د تکنالوژۍ د پرمختګ له کبله انټرنټ ډېر عام شوی دی او دې چارې د خلکو په ورځنيو چارو کې د ليدنې وړ آسانتياوې رامنځته کړې دي.

د همدې تکنالوژۍ پر مټ د پخوانيو نسلونو او ځوانانو په پرتله د نننۍ پېړۍ ځوانان پرمختللي دي او د زياتو علمي وړتياوو لرونکي شوي دي.

دوی دا مهال د خپلو بريالېتوبونو تګ لوری په خپله ټاکي او د شتمن کېدو په ځېر خپلو موخو ته د رسېدو لارې چارې لټوي، دوی هڅه کوي چې له دې لارې ځانونه د پرمختګ لوړو پوړيو ته ورسوي.

دا چې څنګه کولای شو شتمن شو، بېلابېلې لارې چارې شتون لري چې په لاندې ډول به وړاندې شي:

**اړيکې رامنځته کړئ**

له داسې کسانو سره اړيکې رامنځته کړئ چې ستاسې د سفر ملګري وي او د تاسو په ځېر موخې ولري او هغه په ګډه تعقيبېږي او بيا يادو موخو ته د رسېدو چانس زيات دی.

د دغه ډول اړيکو پُل هيڅ مه نړوئ او له خپلو ملګرو سره ښې او تلپاتې اړيکې ولرئ. له خپلو پخوانيو او اوسنيو همکارانو او د سوداګرۍ له شريکانو سره د اړيکو پرېکولو هڅه مه کوئ او د دې ملګرتيا په لا زياتوالي ټينګار وکړئ.

**د زيات لګښت له غريزې سره مبارزه**

موږ په يوې داسې ټولنه کې را لوی شوي يو چې مشرانو مو زيات لګښتونه کول او د زيات لګښت له غريزې سره يې مبارزه نه کوله. دا چاره د دې لامل شوه چې ځوان نسل مو د زيات لګښت له غريزې سره د مبارزې درس زده نه کړي.

دا بايد ومنو چې نننی نسل په تېره ځوانان ډېر ژر د تبليغ او اعلانونو تر اغېز لاندې راځي او پر يادې غريزې د بريالېتوب وړتيا يې ټيټه ده. د دې لپاره چې د شتمن کېدو لپاره مو لارې پرانيزو اړينه ده چې د زيات لګښت کولو له غريزې سره مبارزه وکړو او ځوان نسل ته د دې مبارزې درسونه ورکړو.

**د پانګې اچونې لپاره سپما**

د پانګې اچونې لپاره د سپما کول ډېر اړين دي، کېدای شي تاسو به هم له ډېر وخته د سپما کولو لپاره لارې چارې لټولې وي او دا چاره به مو له وخته پيل کړې وي، خو دا کار زيات وخت او زغم ته اړتيا لري.

د دې لپاره چې له سپما مو ښه ګټه پورته کړې وي، پيسې مو په کار واچوئ، ډاډمن اوسئ چې دا چاره به د شتمن کېدو په لاره کې مرسته در سره وکړي.

**د کسب او کار په ټاکلو کې دقت**

د کسب او کار په ټاکلو کې دقت ډېر اړين دی. د دې لپاره چې کسب او کار مو بريالی شي په کار ده چې تر پيل

وړاندې یې په اړه هر اړخیزې څېړنې وکړئ او پر پایلو یې سوچ وکړئ.

په اوسنیو شرایطو کې د نړۍ له اقتصاده خبرېدل خورا آسانه چاره ده او له بېلابېلو وړیا سر چینو څخه کولای شو چې په دې اړه پوهاوی تر لاسه کړو. د دې لپاره چې د شتمن کېدو لپاره مو غوره هڅې کړې وي او ښې پایلې ورڅخه تر لاسه کړئ د کسب او کار په ټاکنه کې له دقت کار واخلئ او غوره ټاکنه وکړئ.

**له کار پوهانو سره سلا**

له کارپوهانو سره سلا مشورې وکړئ او د پرمختللو کمپنیو په اړه پلټنې سرته ورسوئ او دا پیدا کړئ چې څنګه یوه کمپنۍ بریالیتوب ته رسېدلې ده او موخو ته د رسېدو لپاره یې کومې لارې تعقیب کړې دي.

الهام او خلاقیت دوه ډېر ښه ملګري دي، هېڅکله یې په خپل کاري چاپېریال کې له یاده مه باسئ، دا دوه کارونه له تاسو سره د انګېزې په پوهاوي کې ډېره مرسته کولای شي.

**موخې وټاکئ**

میلیونر یا هم شتمن کېدل یوه هیله ده، دې هیلې ته د رسېدو لپاره موخې و ټاکئ او یادو موخو ته د رسېدو لپاره د پلانونو پر بنسټ مخته لاړ شئ.

د اغېزمنو پروګرامونو او پلانونو د رامنځته کولو پر مهال خپلې لنډ مهاله موخې له یاده مه باسئ. دا چاره به تاسو ته د اوږد مهاله موخو لپاره لاره هواره کړي.

**انټرنټ وکاروئ**

د ننني پېړۍ ډېری ځوانان په دې پوهېږي چې ویب ځومره مهم دی او لا هم مخ پر وده دی. مهمه نه ده چې ستاسي اصلي ځای چېري دی؟ کاري موخې مو څه دي؟ ویب کولای شي چې په ځینو برخو کې له تاسو سره مرسته وکړي.

**خوځښت رامنځته کړئ**

که تاسو د شتمن کېدو په اړه د خپلو چارو د پرمختګ لپاره له خوځښت نه کار وانه خلئ، هېڅ به په لاس در نه شي. د ځوانو میلیونرانو د ژوند او کار په اړه ځان پوه کړئ، دوی په یوه ورځ کې له معمولې کچې زیات کار کوي او تل دا هڅه کوي چې د خوځښت او تحرک په حال کې وي.

**وېره او ډار مو له ذهن څخه وباسئ**

په ژوند کې ځینې چارې ستاسو د شتمن کېدو فرصتونه راکموي چې یو یې هم وېره او ډار دی. له وېرې څخه د ژغورلو لپاره مو له خپلې هوښیارۍ او زړورتیا څخه کار واخلئ، خو د خپلې نامعقولې وېرې او ډار له امله د ډېرو طلایي فرصتونو څخه ځانونه مه محروموئ. په ځوانۍ کې ځواکمن اوسئ او هېڅکله ځانو ته داسې باور مه ورکوئ چې موخو ته د رسېدو لپاره مو ځواکمني کمه ده.

د دې لپاره چې په ځوانۍ کې شتمن شئ، په کار ده چې نوښتونه ولرئ، له خپلو وړتیاوو ګټه پورته کړئ، باور ولرئ چې شتمن کېدل جادوګري او مداري ګري نه ده؛ بلکې پر خپل ځان پانګه اچونه وکړئ، پانګه جوړه کړئ، زیارونه وګالئ او په ژوند کې خطرونه قبول کړئ.

سرچینې:


۱- How to Be Rich at a Young Age

Co-authored by Michael R. Lewis

Updated: March 28, 2019

https://www.wikihow.com/Be-Rich-at-a-Young-Age

۲- How I Became Rich Before 30 and How You Can Too

By Aaron Pitman

https://mashable.com/2013/10/13/how-to-be-successful/

۳- 7 Secrets to Becoming Wealthy in Your 20s and 30s

By Jayson DeMersFounder and CEO, Audience Bloom

https://www.inc.com/jayson-demers/the-7-secrets-of-becoming-wealthy-in-your-20s-and-30s.html

# سرمایه گذاری مستقیم و غیر مستقیم

در مجموع، سرمایه گذاری در بازار های سرمایه، مستلزم کسب مهارت های لازم و صرف وقت است. اگر کسی تمایل به کسب بازدهی در بازار سرمایه داشته باشد، اما تخصص و زمان کافی برای این کار را نداشته باشد، می تواند از خدمات مدیریت سرمایه گذاری بهره برده و به صورت غیر مستقیم در این بازار سرمایه گذاری نماید.

در روش غیر مستقیم، نا گزیر مدیریت سرمایه خود را به افراد متخصص و با تجربه در این بخش بسپارند. این افراد با بررسی مداوم شرایط بازار سرمایه گذاری، در تلاش هستند که سریعترین و بهینه ترین تصامیم سرمایه گذاری را اتخاذ نمایند و بطور عموم در ازای ارائه این خدمات، کارمزد دریافت می گردد.

از دید کُلی، سرمایه گذاری به معنی صرف نظر کردن از عواید امروز به امید دریافت عواید بیشتر در آینده است. سرمایه گذاری به شیوه مستقیم و غیرمستقیم صورت می گیرد که در اینجا به معرفی هریک آنها پرداخته می شود.

## سرمایه گذاری مستقیم

باید توجه داشت که برای استفاده از این روش، سرمایه گذاران باید دارای تخصص، تجربه و حوصله کافی باشند. در این سیستم سرمایه گذارانی که می خواهند با استفاده از این شیوه، دارایی هایشان توسط خودشان مدیریت شود، از این روش استفاده می کنند. این نوع سرمایه گذاری نسبت به سرمایه گذاری غیرمستقیم، ریسک بالاتری دارد و به طریقه های حضوری، انترنتی و آنلاین در بازار سرمایه امکان پذیر است. در این شیوه، سرمایه گذار با اتکا به دانش و مهارت خود اقدام به ورود به بازار سرمایه می کند، در این صورت مسئولیت فایده و زیان مربوط خود او است.

## سرمایه گذاری غیرمستقیم

در این شیوهٔ سرمایه گذاری، سرمایه گذار مدیریت سرمایه خویش را به افراد متخصص و با تجربه واگذار می‌کند. این روش برای افراد غیر حرفوی یا کسانی که زمان کافی برای بررسی و انتخاب سهام مناسب ندارند، مناسب است. این نوع سرمایه گذاری به طور خاص به آن دسته از سرمایه گذارانی که خواهان سرمایه گذاری بلندمدت، ثبات ارزش و نوسان کم هستند، پیشنهاد می شود.

در حال حاضر، جهان هم به سمت سرمایه گذاری غیرمستقیم در حرکت است. در این روش، نهادی به عنوان واسطه میان سرمایه پذیر و سرمایه گذار عمل نموده و سرمایه گذاری را به نیابت از سرمایه گذار انجام می دهد. این کار دارای بخش های مختلف بوده و شناخته‌ترین آن‌ها صندوق‌های سرمایه گذاری مشترک، صندوق های بازنشستگی، شرکت های سرمایه گذاری و ...، می باشند.

## مزایای سرمایه گذاری غیرمستقیم

این نوع سرمایه گذاری دارای مزایای بیشمار بوده که از این میان می توان به موارد زیر اشاره کرد:

برخورداری از مدیریت خوب و حرفوی، کنترول ریسک، نظارت بر عملکرد این نهادها توسط سرمایه گذاران، رسانه‌ها و تحلیلگران، صرفه‌جویی در هزینه ها، استفاده از تنوع بخشی، قابلیت نقد شوندگی بسیار بالا، قابلیت مقایسه و انتخاب و صرفه‌جویی در زمان می باشد.

امروز، دنیا برای مقابله بخاطر جدا کردن افرادی که فاقد دانش حرفوی سرمایه گذاری در این بخش اند، در نظر دارد برای کسانی که شناخت با بازار سرمایه دارند، سرمایه

گذاری غیرمستقیم در بورس را توصیه کند که از طریق واسطه ها در بازار سرمایه گذاری حضور یابند.

این واسطه ها متنوع اند و معروف ترین آنها صندوق های سرمایه گذاری مشترک، اداره کنندگان طرح های بازنشستگی متعدد، شرکت های سرمایه گذاری و مشابه آنها هستند. این نهادهای مالی که کارشناسان و متخصصان بسیاری را در اختیار دارند، واسطه قرار می گیرند و سرمایه گذاری مستقیم عامه شهروندان را به سرمایه گذاری غیرمستقیم در بورس مبدل می کنند.

این نهادهای مالی با تشکیل سبد سهام و سایر اوراق بهادار می کوشند تا ریسک را برای سرمایه گذاران کاهش دهند و البته در قبال ارائه این خدمات دستمزدی هم می گیرند. بدین ترتیب، همه شهروندان با استفاده از خدمات این نهادهای مالی در موقعیتی مساوی با همه سرمایه گذاران غیرحرفوی در بورس قرار می گیرند.

با توسعه بازار سرمایه و با حضور هر چه بیشتر مردم در این بازار، ضرورت است که در اسرع وقت نسبت به ایجاد نهادهای سرمایه گذاری مناسب برای تجهیز پس اندازهای مردم و دادن امکان حضور غیرمستقیم در بازار سرمایه به آنان، اقدام شود. اکنون همگان می پذیرند که خرید تک سهم توسط سهامداران غیرحرفوی امر بسیار خطرناک است که باید از آن اجتناب شود.

البته، سرمایه گذاری مستقیم مردم در بازارهای کارایی سرمایه از قبیل بازار نیویارک یا لندن ریسکی به مراتب کمتر از سرمایه گذاری مستقیم مردم در بازارهای غیر کارا دارد. در بازار کارا، تحلیل بسیاری روی سهام صورت گرفته است و قیمت هر سهم، کلیه اطلاعات گذشته و حال را منعکس می کند و به دلیل پایین بودن حجم اطلاعات محرمانه، فرصت سرمایه گذاری مساوی به همه بازیگران داده می شود.

در بازار کارا، فرد غیر حرفوی نیز از طریق علامت گیری از افراد حرفوی می تواند که بطور مستقیم، در بازار سرمایه گذاری کند. در واقع، چون بازار کارآمد است، بنابر آن هر فرد عادی نیز می تواند به فرض اینکه قیمت ها حاوی همه اطلاعات است و اطلاعات به شکل متقارنی توزیع شده، با اطمینان بیشتری به خرید سهم بپردازند.

با این همه مشاهده می کنیم که بخش عمده سرمایه گذاری به شکل سرمایه گذاری غیرمستقیم است، اما سرمایه گذاری مستقیم عامه مردم غیرحرفوی در بازار سرمایه کشورهای در حال توسعه امری بسیار خطرناک است.

سرمایه گذاری در صندوق های مشترک در اختیار سرمایه گذارانی است که با آن بتوانند سبد متنوعی از اوراق بهادار را در اختیار داشته باشند، بدون اینکه مجبور باشند سرمایه گذاری خود در اوراق بهادار مختلف و تک تک اوراق بهادار را مدیریت کنند. چنین مزیتی باعث شده بود که به ویژه در دهۀ پایانی قرن گذشته، شاهد سرمایه گذاری در صندوق های سرمایه گذاری مشترک سهام در کشورهای در حال توسعه باشیم و این صندوق ها به عامل مهمی در توسعه سهامداری در این کشورها تبدیل شوند. البته، آمارها حاکی از آن است که سرمایه گذاری غیرمستقیم در بورس از طریق صندوق های سرمایه گذاری مشترک، بیشتر توسط افرادی صورت می گیرد که سن آنان بین ۳۴ تا ۶۵ سال است و آماده پذیرش ریسک متوسط اند.

منابع:


۱- نخطئ دائماً حين نخلط ما بين رجال الأعمال ورجال الأموال، وقد لاحظت منذ فترة بعيدة ترسخ هذا الخلط. ويبدو أننا نحتاج فعلاً إلى عملٍ فكرى كبير لضبط

۲- Direct vs. Indirect Investing | Highbro
direct-vs-indirect-investing ‹ https://gohighbrow.com

3- Direct or Indirect Investing: Real Estate Investment Types | BrickVest
direct-indirect-investing-real-estate-investme... ‹ learn ‹ https://brickvest.com

# د درملو د تولید په برخه کې پرمختګونه

د افغانستان هېواد د درمل جوړونې په برخه کې د په ځان بسیاینې پر لور ګامونه پورته کوي. دا مهال په هېواد کې د اړتیا وړ ۲۰ سلنه درمل تولیدېږي او هڅې روانې دي چې په دې برخه کې به نور پرمختګونه هم رامنځته شي.

د اړوندو دولتي ارګانونو د معلوماتو له مخې افغانستان په کلني ډول د شاوخوا۶۵۰ میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت درمل هېواد ته راوړي او له دې لارې افغانستان ډیر اسعار له لاسه ورکوي.

دا مهال (۲۵۰۰) قلمه درمل له پاکستان، هند، ایران، ترکیې، بنګلدېش او نورو هېوادونو څخه را واردېږي چې ډیره کچه پانګه له دې کبله یادو هېوادونو ته ځي.

تمه ده چې په دې برخه کې به پانګه اچونه بهرنیو هېوادونو ته له هېواده د اسعارو د تګ مخنیوی وکړي او یاد اسعار به د افغانستان په کورني بیلانس کې ور زیات شي.

دا مهال په هېواد کې د درملو د تولید ۴۲ کارخونې فعالې دي چې ۱۵۶ قلمه بېلابېل درمل تولیدوي چې د هېواد د ۱۵ سلنه ناروغانو اړتیاوې پوره کولای شي.

په دې درملو کې کپسول، ټابلېت، شربت، پماد، سېروم او قطره شامل دي چې له دې ډلې یو شمېر یې بهرنیو هېوادونو ته هم صادرېږي. افغانستان له جګړو وړاندې د یو شمېر درملو په برخه کې غوره نوم ګټلی ؤ چې له دې ډلې زیاترو درملو یې د هېواد د ناروغانو اړتیاوې پوره کړې وې او یو شمېر نور یې بهرنیو هېوادونو ته هم صادرېدل.

تمه ده چې دولت او خصوصي سکتور به په دې برخه کې په لا زیاتې پانګې اچونې سره په هېواد کې دې صنعت ته وده ورکړي او په دې برخه کې به لا زیات پرمختګونه رامنځته شي.

د دې لپاره چې په هېواد کې د درملو د تولید صنعت وده وکړي په کار ده چې



په دې برخه کې لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

- هغه درمل چې په کور دننه تولیدېږي له بهرنیو هېوادونو څخه په واردېدونکو ورته درملو تعرفې لوړې شي او یا هم باید هېواد ته د یادو بهرنیو درملو په وارداتو بندیز ولګول شي.
- هغه درمل چې په هېواد کې تولیدېږي داکتران باید خپلو ناروغانو ته د کورنیو درملو د کارولو سپارښتنه وکړي چې پر مټ به یې د کورنیو درملو د تولید صنعت وده وکړي.
- د درملود کیفیت ښه والي ته د افغان دولت پوره پاملرنه.
- د کورنیو درملو جوړولو لپاره له بهره پر را وارد شویو اومو توکو باندې باید مالیات کم ولګول شي.
- د کورنیو درملو پر تولید د پانګې اچوونکو لپاره دې آسانتیاوې برابرې شي.
- د درملو د تولیدونکو د هڅولو لپاره دې پلانونه جوړ او پلي شي.
- د درمل جوړولو د کارخونو خاوندانو ته د ځمکو ورکړه.
- د درمل جوړونې د کارخونو لپاره په ټیټه بیه دوامدارې برېښنا لپاره د زمینې برابرول.
- په دې برخه کې پانګه‌والو ته په لوړیو کلونو کې له مالیاتو څخه معافي او د نورو آسانتیاوو برابرول.

دا او دې ته ورته نورې چارې د دې لامل کېدای شي چې د هېواد د درمل جوړونې صنعت وده وکړي او له دې لارې خلکو ته د دندو پیدا کېدو زمینې برابرې شي.

له بلې خواکه څه هم په تېرو څو کلونو کې د روغتیا په برخه کې ډېره پانګه اچونه شوې ده، خو تازه معلومات ښيي چې یوازې له تېرو درېیو کلونو را په دېخوا په دې برخه کې تر ۱۵۰ میلیون ډالرو زیاته پانګه اچونه شوې ده او دا لړۍ لا هم دوام لري.

تمه ده چې تر راتلونکو څو کلونو پورې به د روغتیا په برخه کې پانګه اچونه لا زیاته شي چې له دې سره به د درمل جوړونې صنعت هم وغوړېږي او نوره به د دې اړتیا پیدا نه شي چې له بهرنیو هېوادونو څخه هېواد ته درمل وارد شي او یا مو هم ناروغ هېوادوال دې ته اړ نه وي چې د درملنې لپاره بهرنیو هېوادونو ته لاړ شي.

دا مهال په هېواد کې د مجهزو روغتیايي مرکزونو او درملو د کمښت له کبله هېوادوال اړ دي چې د خپلو ناروغیو د درملنې لپاره بهرنیو هېوادونو په تېره بیا پاکستان او هندوستان ته لاړ شي او له دې لارې یادو هېوادونو ته له هېواد څخه زیات اسعار مخه کړي.

تمه ده چې په هېواد کې د دې ډول مرکزونو په رامنځته کېدو سره به یاده ستونزه هم هواره شي او یادو بهرنیو هېوادونو ته به له هېواده د یادو اسعارو له تګ څخه هم مخنیوی وشي.

سرچینې:


۱ – بازتاب نیوز

https://baztab.news/article/1024929

۲ – دویچه وله/ آلمان غږ ویب پاڼه

په افغانستان کې د بې کیفیته درملو د پلور ستونزه/ هاجره حرکت

د خپرېدو نېټه: 25.10.2019

https://www.dw.com/ps/۳په-افغانستان-کې-د-بې-کیفیته-درملو-پلورلو-ستونزه/a-50989297

۳ – تاند ویب پاڼه/ مقالې

https://www.taand.com/archives/71463

۴ - افغانستان له کلونو جګړو وروسته په درمل جوړونه کې د ځان بسیاینې په لور/ خان محمد سیند/ آزادي راډیو

د خپرېدو نېټه: چنګابښ ۲۴، ۱۳۹۸

https://pa.azadiradio.com/a/30056319.html

# چگونگی برقراری روابط عمومی و تجاری

روابط عمومی مفهومی است که میان یک فرد یا یک نهاد اعم از تجارتی، اقتصادی، دولتی و ... صورت میگیرد.

روابط عمومی پُلی میان یک نهاد و مخاطبان آن می باشد که تجزیه و تحلیل اطلاعات و نظرات مدیریت مؤسسه را به مخاطبان آن و بالعکس انتقال تجزیه و تحلیل اطلاعات این گروه ها به مدیریت، ایجاد همسویی و هماهنگی در علایق و منافع همدیگر می باشد.

همان طوری که می دانیم روابط عمومی، مولود عصر جدید نیست و در گذشته همزمان و همپای توسعه علمی، عقلانی، تخنیکی و اقتصادی جوامع به شکل های مختلف استفاده می شد.

اقدامات ارتباطی بشر در مراحل اولیه مبتنی بر ارتباطات حضوری و چهره به چهره بود. البته که نوع ابزار، شیوه ها، میزان توانایی، وسعت و گستره اثرگذاری آن ها با امروز تفاوت های زیادی داشته است. زیرا بشر در کلیه مراحل زندگی، دارای نیازهای ارتباطی بوده و این نیازها را از مجراهای مختلف و به کمک ابزار متفاوت، پیگیری می کرده است. کتاب های مختلفی که در این زمینه منتشر شده، نمونه های زیادی ارتباطی بشر در قرون گذشته در مناطق مختلف دنیا را بیان نموده که به وسیله چه ابزاری نیازهای ارتباطی خود را برآورده می کردند.

یکی از مهم ترین اصول موفقیت یک کارآفرین، هنر برقراری ارتباطات تجاری است. شما نمی‌توانید بدون داشتن هنر برقراری ارتباطات تجاری یک کارآفرین مؤثر باشید که به همین منظور باید هنر برقراری ارتباطات تجاری را یاد بگیرید.

انتخاب آدم‌های بزرگ برای کارکردن با آن‌ها، سرعت دستیابی به موفقیت را به شدت بالا می‌برد، ولی این فقط یکی از پاداش‌هایی است که به دست می‌آورید.

برقراری روابط تجاری مجموعه‌ای از اقدامات و کوشش‌های حساب‌شده‌ای است که هر نهاد برای برقراری ارتباطات مؤثر و هدفمند با گروه‌هایی که با آن در ارتباط اند، انجام می‌دهد. روابط عمومی، روبه‌رو شدن یک مؤسسه با مخاطبانش را از طریق پرداختن به موضوعات و مطالب و اخباری انجام می‌دهد که به منافع مشترک آن ها مربوط است.

سخنرانی در کنفرانس ها، همکاری با رسانه ها و بهره‌وری از آنها، ارتباطات بحران، اشتغال به امور اجتماعی از طریق رسانه‌ها و ارتباط با کارکنان، در زمره وظایف این حرفه است.

هر سازمانی که با افکار عمومی سروکار دارد و نیازمند ارائهٔ تصویر روشنی از خود نزد آن است، گونه‌ای از روابط را به پیش می‌گیرد. برخی از رشته‌های مرتبط تحت نام ارتباطات شرکتی نظیر روابط رسانه‌ای، روابط سرمایه‌گذاری، ارتباطات داخلی و روابط کار وجود دارند که به فعالیت‌های روابط ربط دارند.

کارکنان روابط عمومی، بطور عموم توجه خود را به ساختن مناسبات شان با کسانی معطوف می کنند که به همسازی با آن‌ها بینجامد. کارکنان روابط عمومی باید بدانند که چطور به شکل شفاف بنویسند، صحبت کنند و با تجزیه و تحلیل امور مربوط به سازمان و مؤسسهٔ خود، به رفع و رجوع مسائل بپردازند. این مهارت‌ها به شدت مورد نیازند، زیرا در رشته روابط عمومی، ارتباط پیوسته‌ای میان کارکنان و کسانی وجود دارد که در تعیین سمت سیاست‌های همگانی، نقش ایفاء می کنند. کارکنان روابط همچنین باید به اندیشه‌ورزی انتقادی بپردازند تا بتوانند به واسطه این مهارت، به حل مشکلات احتمالی مشتریان و موکلان خود اقدام کنند.

روابط دارای چندین قلمرو کاری مشخص است و از همه مقبول‌تر، روابط عمومی مالی، روابط عمومی فرآورده و روابط عمومی بحران است:

یکی از بزرگترین تفاوت های روابط و تبلیغات در برنامه ریزی است. به طوریکه روابط عمومی برای بلندمدت برنامه ریزی می کند، اما تبلیغات، در کوتاه ترین زمان ممکن به دنبال نتیجه است و البته این موضوع، ریسک کار را بالا می‌برد. روابط با صبر و حوصله و اختصاص زمان تفکر بیشتر به مشتری و شرکت، در جهت جلب رضایت هرچه بیشتر مشتری و ارائه‌ی خدمات بهتر، سعی در حفظ مشتریان و مخاطبان شرکت دارد.

ارائه چهره واقعی و شفاف شرکت به مشتریان از وظایف مهم روابط است و اگر این درک به وجود آید که مشتریان صاحبان اصلی شرکت هستند و بدون وجود آن‌ها شرکت و سوددهی معنی نخواهد داشت، در می‌یابیم که باید به روابط عمومی حرفه‌ای، به دیده‌ی یک بخش مهم و لازم در هر سازمانی نگریسته شود.

هیئت مدیره و مدیران رده بالا، زمان کافی برای رسیدگی به سیل اطلاعاتی که هر روزه به سازمان‌ها سرازیر می‌شوند، ندارند و البته تمام این اطلاعات نیز به کار آن‌ها نمی آید. در این زمینه، دسته‌بندی اطلاعات وارد شده به سازمان‌ها، به‌روزرسانی و شناخت ارتباط آن‌ها با سمت‌های متفاوت مدیران، نه تنها به صرفه‌جویی در زمان آن‌ها کمک فراوانی می کند، بلکه باعث جلوگیری از پراکندگی و سردر گمی واحدهای مختلف سازمان می‌شود. این تصمیم گیری در سازمان تا حد زیادی به مشتریان نیز کمک می کند و آن‌ها هم می‌دانند که برای مطالبات خود به کجا مراجعه نمایند.

در عصر کنونی مشتری‌مداری نه به عنوان یک شعار، بلکه به عنوان یک رُکن اصلی در سودآوری و بقای سازمان‌ها و شرکت‌ها به موضوع حیاتی تبدیل شده است و دیگر نمی‌توان با شعار دادن بدون عمل گفت که سازمانی به این امر پرداخته‌است یا سازمان این ادعا را داشته باشد، در حالی که در عمل مشتریان رضایتی از سازمان ندارند.

بازگو کردن واقعیت‌های سازمان‌ها برای مشتریان و حد این شفاف‌سازی، دغدغه اصلی روابط‌عمومی است. زیرا که پای بازگوکردن اسرار سازمان در میان است. میان حقوق مشتری و اسرار سازمان باید به بهترین نحو توازن برقرار کرد.

ساختن چهره‌ای مناسب از سازمان در میان مردم و مخاطبان اصلی سازمان یا شرکت و نیز مطرح کردن نام یا برند در بین این همه سازمان و شرکت که روزانه به تعداد آن ها افزوده می‌شود، کاری است که تنها یک روابط عمومی حرفه‌ای و آگاه از عهده آن بر می‌آید.

روابط به دنبال سود دو طرفه است و مثل تبلیغات تنها به سود سازمان خود فکر نمی کند و در واقع روابط تلاش دارد تا با ارتباط هدفمند و مؤثر، ضمن برآوردن نیازهای سازمان خود در جهت شکل‌دهی صحیح به ارتباط مشتریان و سازمانش اقدام کند و از این طریق ارتباط مخاطبان با سازمان را تسهیل کنند.

تجارت در دنیای امروز یک عنصر مهم از جامعه بشری است و مؤسسات اقتصادی در رقابت سخت و البته حساس سعی در ارتقا و تثبیت جایگاه خودشان دارند. به همین نسبت رویکرد روابط بیشتر به سمت تجاری شدن پیش رفته است و یا حداقل برقراری روابط تجاری به شکل قابل ملاحظه ای رشد کرده است تا جایی که امروز در روابط عمومی بطور معمول به جای مخاطب از واژه مشتری استفاده می شود و در نهایت برقراری روابط تجاری بیش از پیش مطرح می شود.

منابع:


۱- حقوق-تجارت-بین-الملل-چیست-چه-تفاوتی https://vindad.com › blog ›

۲- الرابطة+الدولیة+للشراکة+بی https://torjoman.com › dictionary › search › ...

۳- International Trade and International Relations - Jstor

https://www.jstor.org › stable



## ګرانو هېوادوالو!

## ملي بيرغ، ملي سرود او ملي پيسې زمونږ د ملی ارزښتونو له ډلې څخه دي

### اطلاعیهٔ د افغانستان بانک

به تعقیب اطلاعیه قبلی؛ د افغانستان بانک یک بار دیگر به اطلاع هموطنان عزیز می رساند که تعدادی از افراد در مرکز و بعضی از ولایات هنوز هم تحت نام تجارت آنلاین فورکس به معاملات مالی اقدام می نمایند. د افغانستان بانک تا اکنون به هیچ فرد یا شرکتی جواز فعالیت آنلاین فورکس را صادر ننموده و در این زمینه تمام فعالیتها غیر قانونی می باشد. از اینکه داد و ستد با چنین افراد و شرکت ها عاری از خطر نبوده و زیان های مالی را برای هموطنان ما به بار می آورد، از هموطنان عزیز جداً تقاضا می نمائیم تا از انجام معاملات با چنین افراد و شرکت ها خودداری نمایند.

د افغانستان بانک در تلاش است تا افرادی که چنین فعالیت ها را راه اندازی می نمایند، شناسایی نموده و به ارگانهای عدلی و قضایی معرفی نماید.

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال سیزدهم شماره ۱۵۰، قوس ۱۳۹۸





## ګرانو ښاریانو!

**د افغانستان بانک د قانون د دري دېرشمې مادې سره سم**

**د افغانستان مروجې پیسې افغانۍ دي**